مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۳/۱۳

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۲۷۷مه برخه

**لستوڼي بړ وهۍ ګډېږې**
**د قوشتېپې کانال به ټولعمر کې وینه**

**ما دې په سپین مروند ویده کړه**
**خپلې ځپلې مې سر ته ډېرې ایښې دینه**

**یوه نه، څو خبرې وکړه**
**خو داسې نه شي چې ته خلاص کړې کتابونه**

**په حافظه به ظلم وکم**
**تا به ترې هېر کم، زه به بیا پخوانی شمه**

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

**له ما یې یار په ښتو ښېل که**
**د ملک زوی خانته هندوې ګدوینه**

**خپله یې لس ځایه یارې ده**
**ما په یوه یارانه ګرده تاووینه**

**لستوڼي بړ وهۍ ګډېږې**
**د قوشتېپې کانال به ټولعمر کې وینه**

**تر نیمې شپې پورې رانغلې**
**په ما دې سپې په مازیګر ترلې ووڼه**

**پر مخ مې خرې خاورې تلې**
**نه یې مینځمه د لالي د پلونو دینه**

**اول ـ اول و، اوس اخر دی**
**اول به نه وم اوس مئین دربانډی یمه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما دې په سپين مړوند ويده کړه
خپلې ښپلۍ مې سر ته ډبرې ايښې دينه

پر ما دې مرګ راپېرزو نه دی
سترګې دې واړوه سورى، سورى دې کړمه

د اسوېلو علاج مې وکړه
زياتى به وکړي ستاسو کور به وسيځينه

يوه نه، څو خبرې وکړه
خو داسې نه شي چې ته خلاص کړې کتابونه

له بامبوتۍ نه مې کتلي
اتڼ کې ړنګ بنګ اوښتې وغورځيدمه

په جوارګر لالي مې سر دی
په لک مې اخلي په روپۍ مې خرڅوينه

يار مې ساده دی او پياده دی
په لک مې واخلي په روپۍ مې خرڅوينه

د جوارګرو دې کور وران شي
د جانان قدر کموى، ځان شرموينه

دلالي کال کېږي د بل دی
زما نمجنې سترګې لا نمجنې ديـــنه

دغه خوښي دې مبارک شه
خپلوخپلوان دې په ميلو راغلي دينه

ولې دې بن راباندې وکړه
کور مې کاوه، واړه به خداى راکړي وونه

په حافظه به ظلم وکم
تا به ترې هېر کم، زه به بيا پخوانى شمه

بياچې راځم ژوندون به تېر وي
څوک به مې هېر وي، چا به زه هېر کړى يمه

جمامې بوتۍ دې لوى مه شه
چې ټولوم دې زړه مې کاندي ازارونه

که مو غوښتل چې د ليکوال نورې ليکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځاى کليک کړئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ